www.Goftman-AFG.net
E-Mail: Goftman-Afg@net.net
گفتمان
نشریهٔ گفتمان ملی افغانستان
دافغانستان دملي خبرو اترو خپرونه

لیکوالی: داکتر نصیر احمد زی
تاریخ: 16 اپریل 2024

# د پیرانو او پېريانو زور!



په امریکې کې کله چې رسمي دفترونو او یا هم ځینو عامه استوګنځایونو ته ولاړ شئ نو له سختو امنیتي تدابیرو سره مخ کیږی. هغه د هفت خان رستم کیسه ده، ځینې رسمي دفترونو کې داسي پلټنو سره مخ شي لکه څنګه چې هوایي ډګرونو کې ترسره کیږي. همدارنګه ځینو عامه استوګنځایونو کې هم داسې ټینګ امنیتي تدابیر نیولي وي ته به وایې چې سپینې ماڼۍ ته وردانګې، خلاصه د ملګري له لیدو څخه مو پښیمانه کړي .

هغه په دې معنی چې ملګری دې باید ستاسو راتګ او نوم له ګارډانو سره شریک کړي وئ، او تاسو هم عمومی دربازه کې نوم لیکنه یا راجستریشن وکړي ترڅو ښارګوټي ته د ننوتلو اجازه ترلاسه کړي.

خبره دلته نه خلاصیږي، د موټر د پارکینګ ستونزه، د ترلي دهلیز دربازه سره باید د ملګري تر راښکته کیدو په ګرمه، یخه اوباراني هوا کې منتظر پاتي شئ، ستاسو د انتظار موده ترلي ده ستاسو د ملګري د میني او اخلاص تر کچې پوري.

دې حالاتو ته په کتو، د هیواد (افغانستان)، هغه په اصطلاح قلندری سیستم، نظام او خلک را یاد شي چې شخصاً زه یو ځل ملی دفاع وزارت ته بې چون او چرا له دری امنیتي دربازو څخه تیر شوی وم، او یا کله چې ارګ ته تلم امنیتی مسؤلینو یوازي د نوم پوښتنه او مقابل لوري سره مخابره کوله......، ځان څخه وپوښتم چې دا څه عجیبه او ګنګسوونکی حالت دی؟!

دا ملک چې نړۍ یې تر کنټرول لاندې ده، حتی عامه استوګنځایونو کې داسي کلک امنیتي تدابیر ساتئ، خو زموږ په هیواد کې چې نه قانون شتون درلود/لري، او نه هم سیستم، او سریره پر دې

نظام ته هم څوک متعهد پاتې نه وو. خو، عامه وکړو دې حالت ته په کتو خپل سر او مال د پیرانو په دم او دوعاګانې سپارلي او زړونه يې ډاډه وو چې که د پیرصاحبانو دم او دوعاګانې کار ونکړي سرتیري دي ژوندي وئ .

د بلې لورې په ښارونو او بانډو کې امنیتي تم ځایونه کې سترګو لیدل حال بیا داسي وو چې سرتېرو هم په پوځي استوګنځایونو کې په لوړ غږ دمبوره موسیقی ته داسي سره راغونډ شوي وو چې د چا به خولۍ کږه په سر وه، د چا به د یخن بټنې خلاصې، تسبې په غاړه او بته فقری (چرس)، لاس په لاس کول، چا به بیا ورته سترګې توري کړي وئ او چا به شاجور بسته چانټه په ټټر تړلي او د ریدبول په نشه مست وو!.......

تا به ویل چې پیریانو سرتیرو ته د ملک د امنیت او د وکړو د سر ساتنې ضمانت کړي دي!!!

دې ملک (افغانستان)، کې به د پیرانو او پیریانو زور مڼئ، پرته له دې دواړو(پیران او پیریان)، هرڅه ستونزمن بریښې او تاسو دې ته اړکوي ترڅو د کوي قاف له ښاپېریو څخه مرسته وغواړئ. د کوي قاف ښاپېرۍ نن سبا په آسانه په لاس نه راځي، مګر دا چې شپه او ورځي د الله تعالی درباره ته په سجدو تیرې نکړي ترڅو ستاسي دوعاګانې قبولي شئ.

بهتره دا بولم چې د مشرانو خبرو او نقل قول ته غوږ شو چې وايي، "مال ات را هوش کُن، همسایه ات را دزد مگیر"

خپل ځان، سر او مال ته پام ساتئ نه د پیرانو دعاګانو ته ضرورت شته او نه هم پیریانو سره معامله ساتئ. په دې توګه به هم تاسي خوندي وئ، هم به د کوي قاف ښاپېریانې خپل عبادتونه په آرامه زړه وکړي.

***